

# فټبالر

لیکواله

مارایکه باوهاوس



دماشومانو لپاره

ژباړونکی : مختار احمد احسان

## د کتاب پېژندنه:

ددې کتاب د چاپ حق له ژباړن سره خوندي دئ.

د کتاب نوم ::: ...................... فتهبالر
ليکواله:::.............................. مارايکه باوهاوس
ژباړن::: ............................. مختار احمد احسان
انځورونه::: ........................ ويلبرت فن در ستېن
کمپوزر::: ......................... پخپله ژباړن
چاپکال:::............................. ۱۳۸۸ لمريز کال
دژباړلو نېټه::: .................... 24-07-2009 او يا **۲/۵/۱۳۸۸ - جمعه**
د ژباړن برېښناليک:::........... mukhtar.ehsan@gmail.com

www.nanafghan.com

ډالۍ:

افغان ماشومانو ته چي له ډير څه نه محروم پاته دي !

یو څو خبري

دفتبالرپه نامه دکوچنیانو (ماشومانو ) له پاره په پښتوژبه ژباړل سوی کتاب ګران مختاراحمد جان احسان دایمیل له لاري رالیږلی و. زه ددې کتاب په لوستلو ډېرخو شاله سوم. خوشالي مي په دوه اسیته وه. لومړی داچي دمختارجان په شان یوتنکی ځوان حاضرسوی دئ له خپل مورني ټاټو بي څخه لیري په یوه بېل هیوادکي په پښتوژبه قلم چلوي. داپخپله دخوراډېري خوشالۍ خبره ده. دوهم داچي دژباړي له پاره یې داسي موضوع ټاکلې ده چي هغه په پښتوادبیاتوکي یوه خواره بو ښکې برخه ده اوډېرکارنه دئ ورته سوی.
ددې کتاب پښتوډېره روانه اوخوږه ده. ترلوستلووروسته یې چاته داامید پیدا کېږي چي ژباړونکی به یې ،که خپلو هڅوته په منظمه توګه ادامه ورکړي نودپښتوژبي دراتلونکي ادبي بهېردغښتلولارویانوپه کتارکي به ودرېږي.زه دمختاراحمدجان دغه قلمي زیارپرنېک فال نیسم اوله خدایه ورته توفیق غواړم چي په راتلونکي کي دماشومانوله پاره داسي کتابو نه ولیکي چي اومه موادیې له افغاني ټولني څخه راغونډ سوي وي.

دزلمیو قلمونه دي پیاوړي وي

محمد معصوم هوتک
اوکویل ـ کاناډا
۲۵ مه داګست ۲۰۰۹ع

ثـــــوک

ثـــــوک

دئ ؟

دلته په واضح توګه نویشته سوي دي چي په دې کیسه کي څوک څه رول لري:

| نوم | په کیسه کښي یې رول |
|---|---|
| سورګل | د کیسې اتل |
| خېبر | د سورګل د فټبال استاد |
| سپین | د سورګل انډیوال |
| احمد | د سورګل انډیوال |
| ایمل | د سورګل انډیوال |
| کوچۍ | د اتفاق فټبال کلب غړې |
| ملالۍ | د اتفاق فټبال کلب غړې |
| مرغلره | د اتفاق فټبال کلب غړې |
| زمرک | د افغانستان د ملي فټبال کلب غړی |
| روښان | د افغانستان د ملي فټبال کلب غړی |

# فټبالر



د سورګل ډېر طبیعت خراب دئ، خورا یې خوا بده ده.

د سورګل انډیوالان سپین، احمد، ایمل او نانې دوی په فټبال کي دي، خو سورګل اجازه نه لري چي فټبال وکړي.

د سورګل مور نه غواړي هغه فټبال وکړي، د سورګل مور وايي دی اوس ډېر کوچنی دئ.



کله چي سورګل د اتو کالو سي بيا به فټبال شروع کړي.
سورګل وايي: "اته کاله ! مور دا خو ډېر وخت دئ."
سورګل تر اته کلنۍ پوري انتظار نسي کولائ، هغه بايد سږ کال په فټبال کي شاګرد سي، پلار يې هغه ته اجازه ورکوي.



د سورګل مور وايي: "زما فټبال نه دئ خوښ، هيڅ خوند نه کوي."
د سورګل مور وايي فټبال ډېر سخت او وحشتناک دئ، هر څوک چي سورګل په لغته ووهي پر مځکه به پروت وي.
سورګل مور ته بيا داسي وويل: "مور ! زما خوښ دئ، سپين، ايمل او ملالۍ هم په فټبال کي شاګردان دي."
د سورګل مور خپل زوی ته وکتل، هغه هم خپلي مور ته زهير-زهير ګوري.
"مور ! ستا اجازه ده؟" سورګل بيا پوښتنه وکړه.



مور يې ساه وکښه او ويې ويل: "هو ! ورځه !"
سورګل د ډېري خوشحالۍ څخه نارې وهي: "زه اجازه لرم ! زه اجازه لرم !
زه په فټبال کې شاګرد کېږم ! په اتفاق فټبال کلب کې !
مور ! زما څخه به ډېر ښه فټبالر جوړ سي.
مور ! اجازه ده چې د دوشنبې په ورځ يې درس شروع کړم ؟"



نن دوشنبه د ماځيګر شپږ بجې او د فټبال وخت دئ.
نانۍ، احمد ، اېمل او سپين وختي لا راغلي دي.
خيبر وويل: "هغه دئ سورګل راغئ !"
خېبر چې د ګرده ټيم استاد دئ د سورګل سره يې رو غبړ وکئ او سورګل ته يې
وويل: "خوشحاله سوم چې ته راغلې."
"ته زما د کوچنيانو په ټيم کې راځې.
ورسه ! يو ګيند د هغه ځايه راواخله."



سورګل يو ګېند خوښ کړ او په ميدان کې بازۍ په کوي.
دا څونه ښه خوند کوي.
سورګل پر ګول ګېند ور شوټ کړ او ګول يې کړ.
ها ها ! ګــــــــــــــــول سو !
"سپينه ! زما ګـول دي وليدئ؟ په اول واري مي ګول کړ. " سورګل د سپين څخه وپوښتل.
سپين په خندا ورته وويل: "هو ، ومي ليدئ، خو ګول خالي وو ، هيڅ څوک پکښې نه وه. "




خيبر ټول کوچنيان کتار ودرول او سورګل ته يې اشاره کړه او زياته يې کړه چې سر له اوس څخه به سورګل هم زموږ سره بازۍ کوي.
خيبر وويل : " اوس تاسي ټول لس هلکان ياست. "
کوچۍ ناره کړه: "هلکان؟ زه خو نجلۍ يمه، هلک نه يم او ملالۍ او مرغلره هم انجوني دي. "
خيبر په خندا وويل : " بخښنه غواړم ! "



"راځئ چي شروع یې کړو ! تاسي باید پر دغه کوچني لرګي باندي په راځرخېدو سره ګېند پر ګول ورشوټ کړئ چي د ستي به ګول لېږي.
زه یې ستاسي دپاره یو وار کوم، چي تاسي ته معلومه سي چي څنګه یې شوټ کړئ."
خیبر پر کوچني لرګي باندي په راځرخېدو سره ګېند پر ګول ورشوټ کئ، خو هغه د ګول څنګته تېر سو.
سپین په خندا سره وویل: "هاها، داسي نه کېږي، دا غلط دئ."




د درس څخه وروسته خیبر د سورګل څخه وپوښتل: "څنګه سو؟ ښه خوند یې درکړ؟"
سورګل په خوښي سره وویل: "ښځي ښه خوند یې وکئ."
خیبر بیا ورته وویل: "زما پر تا پام وو، ډېره ښه بازي دي کوله."
خیبر د سورګل څخه وپوښتل: "غواړې چي ته هم د افغانستان د ملي لوبډلي سره چي سور او سپین لباس یې دئ په مسابقه کي بازي وکړې؟"
سورګل پلار ته په کتلو سره وپوښتل: "ستا اجازه ده؟"
د سورګل پلار په جواب کي وویل: "هو زویه، زما لخوا درته اجازه ده."
سورګل بیا وویل: "زما پلار اجازه راکړه، خو زه نه پوهېږم چي زما دونه زده دئ چي زه هم هلته بازي وکم؟"
د سورګل پلار وویل: "سورګله! ته فکر مه کوه! زه یې د ښوونځي څخه وروسته د کور په چمن کي درزده کوم."



سورګل او پلار یې دواړه د کور په باغچه کې دي.
د سورګل پلار یو ګول جوړ کئ او ویې ویل: "زه فکر کوم چې دا سې به سم وي.
"
د سورګل پلار سورګل ته اشاره کړه او ویې ویل: "زه په ګول کې درېږم او ته یې
د هغه ځایه څخه راباندې شوټوه!"



سورګل بال پر مځکه کښېښود، شاته ولاړئ او پر راویې ځغستل...
بال سیخ – سیده د سورګل د پلار پر نس ونښت.
پلار یې پر نس لاسونه ونیول او چیغه یې کړه: "الخ! که دا سې یو بل بال
راباندې ونښلي نو به بالا نس نه لرم."
د سورګل پلار شاوخوا وکتل او ویې پوښتل: "ګیند چیرې دئ؟"




د سورګل پلار خپل زوی ولیدئ چي خاندي.
سورګل ګین په نس کي پټ کړئ دئ.
سورګل په خندا سره پلار ته وویل: "زه اوس تاته وسوم. "
پلار يې اوږده ساه وکښله او ويې ویل: "رښتیا وایې؟ زما نس خو دو نه غټ نه دئ ؟ نو باید زه هم په فټبال کي شاګرد سم. "
سورګل په خوښي سره وویل: "سخته ښه خوند به کوي چي ته په فټبال کي شاګرد سې او زه بیا ستا دلیدو لپاره خامخا ستا مسابقې ته درځم. "



نن د افغانستان د ملي لوبډلي او اتفاق فټبال کلب تر منځ مسابقه ده.
سورګل زړه نا زړه دئ چي بازي وکړي که یا ، ځکه د ملي لوبډلي هلکان لږ غټ دي.
سورګل له خپل ځان څخه وپوښتل: "آیا نن ورځ به پخېر تېره سي؟ "
خیبر سورګل ته شین - سپین لباس ورکئ او ورته ويې ویل: "دا واغونده ! "
سورګل لباس واغوستئ او د میدان پر خوا يې ور وځغستل.
سور و سپین لباس والا وختي لا راغلي دي.
سورګل چي د ملي لوبډلي هلکانو ته وکتل له ځانه سره يې وویل: "آررې، دوی څونه غټان دي چي دا نه وي نه وي د لسو کالو خو دي. "



سورګل چې په بېړې سره د ملي لوبډلې هلکانو ته کتل له ځان سره یې وویل: "که یې یوه لغته رابندې ونښته نو به پړمخې پر مځکه پروت یم."
خیبر سورګل ته ورناري کړه: "سورګله ! چیرې یې ؟ دلته راسه چې ناوخته کېږي ! "
سورګل او خیبر یو له بله لاسونه سره ونښورول.



سورګل خیبر ته وروځغستل.
خیبر سورګل ته وویل: " ته باید په دې خوا کې اوسې ! "
اوس خیبر ټولو ته تشریح کوي چې څنګه باید بازي وکړي.
سورګل باید فارورډ سي.
سپین ګولي کېږي.



“د اتفاق فټبال کلب والا ! لس بجي دي ” يوه سړي ورناري کړه او بال يې په مابينځ کي پر ليکه کښېښود او پسي ويې ويل: ” دا چي د فټبال ملي کلب مېلمه دئ نو ګيند يې د دوی. “

زمرک چي د سور- سپين د ټيم د خوا دئ روښان ته يې ګيند ورشوټ کئ.
روښان دغسي د شين-سپين د ټيم پر خوا ور روان دئ او ګيند يې د شين-سپين پر ګول ورشوټ کئ او ګول يې کئ.
بازي اوس صفر پر يوه (۰ -۱) ولاړه ده.



د سورګل پلار غټي - غټي ناري وهي: ” هلئ ژر کوئ ! اوس يې بايد تاسي ګول کړئ. هله سورګله ! هله سورګله ! “
سورګل په درد سره خپل پلار ته ګوري او ورته ويې ويل: ” پلاره ! بخښه دي وي خو داسي ناري مه راته وهه. “
خو د سورګل پلار د سورګل خبري نه اوري.
اوس ګيند د سورګل په لاس ورغئ.



سورګل همداسي د ګول پر خوا چابک – چابک ورځغلي.
سورګل داسي ستړئ سو چي پښې يې بالا نه ښوري خو ګېند نه پرېږدي او د ګول پر خوا ورځغلي.
ګول ته چي رانږدې سو نو چابک لږ شاته ولاړئ او خپل په وس يې ګېند پر ورشوټ کئ.
چيغې سوې، نارې سوې. سورګل ګـــــول کړئ.



سورګل د خوشحالۍ څخه نارې وهي، شا و خوا ځغلي او ډېر خوشحاله دئ.
سپين چي د سورګل د خوا دئ ډېر درد ورغلئ دئ او په درد سره يې ګېند راواخيستئ.
سپينه! دا د غه ګول وو؟ سور – سپين ټيم والا خوشحال دي؟
"اې! بې عقله! دا خو دي خپل ځانته ګول ورکړئ." يوه سړي ورناري کړه.



د سورګل مخ تک - سور سو.
نو سورګل خپله خپل ځانته څنګه ګول ورکړئ ؟
آیا د خیبر به سورګل ته درد راغلئ وي ؟
خو شکر دئ خیبر ته درد نه دئ ورغلئ او په خندا یې وویل: " سورګله ! ډېر ښه شوټ دي پر ووهئ خو ګول یې خراب وو ! "



اوس تفریح ده او آرامي ده.
خیبر خپل د کوچنیانو ټیم یو ځای سره کښېنوئ او ورته ویې ویل: "دا ستا سو ناکامي وه خو امید به لرو.
او نوره بازي ښه روانه ده. "



هغه سړي بیا ناري وهي او وایي چي اوس یې ګیند د اتفاق د ټیم.
خیبر سورګل ته اشاره کړه او ورته ویې ویل: "هغه دئ د سور – سپین ټیم ګول."
سورګل وخندل او اوس نور پوه سو چي کم ګول د دوی خپل دئ.
ګیند د اپمل څخه دئ او سورګل ته یې ورشوټ کئ.
سورګل بیرته اپمل ته پاس ورکئ.
اپمل د سور – سپین پر ګول ورشوټ کئ او ګــــــول یې ګئ.
د اتفاق فټبال کلب لوبغاړي ناري وهي او خوشحالي کوي.
اپمل د ډېري خوشحالۍ څخه پر سر کرملغ وخوړئ.



بــــازي روانـــــه ده.
اپمل سور – سپین ته یو بل ګـــــــــول پسي ورکئ.
ورپسې ملالۍ یو ګـــــــــول سور – سپین ته ورکئ.
بازي ختمه سوه او د اتفاق فټبال کلب ۲ پر ۳ وګټله.
سورګل ډېر ستړی دئ او ستمی یې دئ خو بیا هم د خوشحالۍ د لاسه دوري – هوري ګرځي او راګرځي.
فټبال عجب خوند کوي او سخته خوندوره بازي وه.



د سورګل پلار پر میدان ورو ځغستل او سورګل یې د خوشحالۍ دلاسه په څټ کي کښېنوئ.
د سورګل پلار داسي ناري وهي: "اتفاق، زنده باد ! سورګل، زنده باد !"
"سخته ښه خوند یې وکئ او ښه سات تېری وو."

---

## سوالونه
## او
## ځوابونه

که مو رښتیا هم په دې کیسه سر خلاص سوئ وي او په پوره توګه سره مو ویلې وي نو باید تاسي د کتاب په کومک سره لاندي پوښتنو ته جوابونه وویلای سئ او وروسته خپل جوابونه د لاندي جوابونو سره مقایسه کړئ.

سوالونه:
۱. په لنډ ډول ووایاست سورګل په دې کیسه کي څه رول لري؟
۲. آیا که په دې کیسه کي سورګل نه وي نو کیسې ته څه زیان رسېږي؟
۳. د کیسې په شروع کي د سورګل ولي خوا بده ده او طبیعت یې خراب دئ؟
۴. آیا سورګل د کیسې ترپایه پوري همداسي خوابدی وي او که بیرته خوشحاله سي؟
۵. که سورګل د کیسې ترپایه پوري نه وي خوابدی نو په څه شي خوشحاله سي

؟

۶. سورګل په کوم فټبال کلب کې شاګرد سي؟
۷. د سورګل د فټبال د استاد نوم څه دئ ؟
۸. د سورګل سره څوک کومک کوي چې سورګل د مسابقې لپاره اماده سي ؟
۹. د سورګل د ټیم دلباس درنګونو نومونه یاد کړئ !
۱۰. د سورګل دخوا ټیم د کوم بل ټیم سره مسابقه وکړې د هغه کلب نوم ولیکئ.
۱۱. نوموړې مسابقه څوک وګټې او څو پر څو یې وګټې ؟
۱۲. سورګل د مسابقې په جریان کې کومه غلطي وکړه؟
۱۳. د اتفاق د فټبال کلب دټیم لخوا څوک او څوک ګولونه ولګوي نومونه یې یاد کړئ ؟
۱۴. د افغانستان د فټبال کلب لخوا څوک او څوک ګولونه ولګوي نومونه یې یاد کړئ ؟
۱۵. آیا په دې کتاب کې په هره صفحه کې عکسونه فایده کوي؟
۱۶. خپل نظر د دې کتاب دعکسونو په باره کې ولیکئ.
۱۷. خپل نظر ددې کیسې په اړه ولیکئ.
۱۸. ستا خپله فټبال خوښ دئ؟
۱۹. ددې کتاب کومه صحنه دې ډېره خوښه سوه؟ هغه صحنه په پوره توګه سره پخپله پیاد ولیکئ.
۲۰. په کتاب کښې مو کومه صحنه نه سوه خوښه؟ هغه صحنه په پوره توګه سره پخپله پیاد ولیکئ.

---

ځوابونه:

۱. سورګل د کیسې اتل دئ او دا ټوله کیسه پر سورګل روانه ده او د سورګل رول یو ډېر پر ځای او مهم رول دئ.
۲. که په کیسه کښې سورګل نه وي نو دا کیسه له منځه ځي ولې چې کیسه پر سورګل روانه ده.
۳. د کیسې په شروع کښې د سورګل په دې خوا بده ده او طبیعت یې خراب دئ چې د سورګل مور و سورګل ته اجازه نه ورکوي چې سورګل دې په فټبال کښې شاګرد سي. او دا چې فټبال د سورګل ډېر خوښ دئ نو یې خوا بده ده او مور ته زاری کوي چې مور یې اجازه ورکړې.
۴. سورګل د کیسې د پېل څخه وروسته دستي بیرته خوشحاله سي.
۵. سورګل په دې خوشحاله سي چې مور یې اجازه ورکړې چې په فټبال کلب کښې شاګرد سي.
۶. سورګل په اتفاق فټبال کلب کښې شاګرد سي.
۷. د سورګل د استاد نوم خېبر دئ.
۸. د سورګل سره د سورګل پلار کومک کوي چې سورګل د مسابقې لپاره اماده سي.
۹. د سورګل دټیم دلباس رنګ شین او سپین دئ.

۱۰. د سورګل د خوا ټیم د افغانستان د ملي فټبال کلب سره مسابقه وکړي.

۱۱. نوموړې مسابقه د اتفاق فټبال کلب ټیم ۳ پر ۲ وګټي.

۱۲. سورګل د مسابقې په جریان کښې دا غلطي و کړي چي خپل ځانته پخپله ګول ورکړي.

۱۳. د اتفاق د فټبال کلب د ټیم لخوا ایمل دوه ګوله ولګوي او دریم ګول ملالۍ ولګوي.

۱۴.. د افغانستان د فټبال کلب لخوا روښان یو ګول ولګوي او دوهم ګول د سورګل لخوا ولګول سي چي پام یې نه وو.

۱۵. ستا خپل جواب.

۱۲. ستا خپل جواب.

۱۷. ستا خپل جواب.

۱۸. ستا خپل جواب.

۱۹. ستا خپل جواب.

۲۰. ستا خپل جواب.

# د "فټبالر" کیسې لنډیز :

د سورګل فټبال ډېر خوښ دئ او غواړي چې د فټبال په کلب کې شاګرسي. د سورګل د پلار خوښه ده چې سورګل فټبال شروع کړي خو د سورګل د مور نه ده خوښه. سورګل مور ته ډېرې زارۍ کوي چې د فټبال کولو اجازه ورکړي. له ډېرو زارۍ کولو څخه یې وروسته مور اجازه ورکړي. سورګل ډېر خوشحاله سي او دستي د فټبال په کلب کې شاګرد سي. د سورګل د فټبال د شروع کېدو څخه وروسته د سورګل ژوند تغیر وکړي. آیا هغه به په فټبال کي خوشحاله وي او که خوابدی ؟آیا دسورګل څخه به یو لوی فټبالر جوړ سي او که به هغه په فټبال کښې لاس و پښه ماته کړي چې ژوند یې نور هم بدرنګه سي. که غواړئ چې په کیسه ځان خبر کړئ نو بس همدا اوس کتاب وغوړوئ او ویې لولئ.

## د ژباړن اثار :

١. زما سوی !  : د ماشومانو لپاره

٢. فټبـالـــــر  : د ماشومانو لپاره (همدا اثر)